مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۳/۰۷/۲۳

# ساحرجمال

چي ښکاره کړ مخ جهان ته زما صنم
بت پرستو بتان پرېښودل ها د م
حورو مخ باندي حجاب واچاو له شرمه
ښا پېریوکړخپل سر په تعظیم خم
ګلان مړاوي شوه له شرمه، له حسده
چي ګلزار کي ګلرخ کښېښوده قدم
بلبلانو خاموشي ځانته کړه غوره
چي آواز کي يي جادو خپل ولید کم
لاله وشرمېد خولي يي پرمخ راغلي
خلکوخیال کاوه چي پروت دی پری شبنم
ځکه ده کي دا ګرمي او سرخي نه وه
چي په شونډوکي د یاروه، مستي هم
توري پټ کړځان غلاف کي ژرترژره
څو شي پته يي له وروځو پدي چم
هوسی راغله چي نظريي شوپه سترګو
دستي لاړه یوګړی لا نه شوه تم
د دریاب جوش اوخروش یومخ پیکه شو
توپاني زلفو لیدلو سره سم
میخورانو يي د یوي خولګی په تمه
جام نه لاس واخیست، شرابونه قسم
ما اکبر يي د ساحرجمال له شوقه
دستي لاس کي ژرترژرونیو قلم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ